یارمحمد تره کی ۲۰۱۷/۰۵/۰۱

گلبدین حکمتیار پر نویو سیاسي ماینونو پښې ږدي

گلبدین حکمتیار د ملی وحدت سره د سولی د موافقی تر لاسلیکولو وروسته، د خپل ژوند تر ټولو ستر سیاسی بری تر لاسه کړ. ده چی په خو جگړه ایزو او سیاسی جوړ جاریو کی سختی ماتی خوړلی وی ، دادی د افغانستان رسمی سیاسی میدان ته ور دانگی. په دغه لار کی ډیر سیاسی ماینونه هغه ته کرل شوی دی چی په دی لیکنه کی به پری بحث وکړم.
د دی لپاره چی د ویونکی حافظه تازه کړم د گلبدین حکمتیار د خو مهمو سیاسی او جگړه ایزو اقدامونو په باب به سپیناوی وکړم.

* د ۱۹۹۲ کال د مجاهدینو د موقت حکومت د جوړیدو نه وروسته حکمتیار ونه شوای کړای تر خو د تنظیمی دولت په سر کی راشی او یوازی د صدراعظم وظیفه ورته ورسیده. دا په داسی حال کی وو چی د کابل ښار د ده د سیالی ډلی تر ولکی لاندی وو. همدا سبب شو چی حکمتیار کابل ته رانشی او د شمالی نه یی د خپل گوند یو چارواکی د قوماندان فرید په نامه د صدارت خوکی ته نوماند کړ. فرید چی د لازمی وړتیا خاوند نه وو نو ویی نشوای کولای تر خو د جمیعت او نظار شورا سره د حکومت جوړولو کار په مخ بوزی او متعاقباً درنده جگړه په کابل کی ولگیده.

* په ۱۹۹۶ کال وروسته له هغه چی دهماهنگی د شورا او د نظار د شورا په خپلمنځی جگړه کی د کابل ښار ته ځانی او مالی زیانونه ورسیدل او جگړه لږ سړه شوه نو جهادی تنظیمونو د پاکستان او سعودی په وساطت بیا د حکومت جوړولو فیصله وکړه. گلبدین حکمتیارته یو ځل بیا د صدادرت خوکی ورسیده. دا ځل حکمتیار بیا کابل ته د راتگ نه په شا شو خو د صدارت خوکی یی په غیابی توگه و منله.

* د امریکایی قواوو د نظامی مداخلی نه وروسته حکمتیار دا ځل د سیاسی چل نه کار واخیست. هغه داوو چی د خپل گوند یو شمیر لوړپوړی چارواکی یی د دولت په داخل کی ننه ایستل او دی په خپله د وسله والو کسانو سره ددولت او امریکایی قواوو پر ضد د جهاد اعلان وکړ.

* د حکمتیار د پورته فیصلی په نتیجه کی که څه هم چی اسلامی گوند په کابل کی ښی سیاسی او اقتصادی ریښی و زغلولی خو په عین وخت کی حکمتیار ته په خپله د مشرتابه جدی ستونزی را پیدا شوی دی. هغه کسان چی مخکی د اسلامی گوند ساده کادرونه او دوهمه در جه مسولین وو اوس په سیاسی لحاظ ډیر پر مخ تللی او په اقتصادی لحاظ د دولتی سرچینو په لرلو سره د میلیونونو ډالرو خاوندان شوی دی. اوس مهال حکمتیار ته سخته ده چی دغه نوی مشران بیا تر خپلی ولکی لاندی راولی. دا ځکه چی د دموکراتیک جمهوریت د دولت په وراندی د جگړی پر محال حکمتیار د مالی سرچینو څښتن وو او دغو مامورینو او قوماندانانو ته یی تنخواه گانی ورکولی. خو اوس هغه پریمانه امریکایی پیسی د نورو کسانو له خوا ویشل کیږی.

* دغه دی گلبدین حکمتیار د ملی وحدت د حکومت سره د سولی موافقه وکړه او اوس مهال د افغانستان سیاسی مورچل ته ور داخلیږی. پوښتنه دلته را مینځ ته کیږی چی دا واری به حکمتیار د کومی پالیسی نه کار اخلی؟
دده د عسل میاشت او د محبوبیت موده به ۳-۴ میاشتی دوام وکړی او خلک به دده لیدلو ته ورځی او مصاحبی به کیږی. د نن نه شپږ میاشتی وروسته به د جمهوری ریاست د ټاکنو کمپاینونه پیل کیږی. ددی کمپاینونو یو مهمه بیلگه د هیواد په سیاسی نظام کی د اسلا می گوند پوره گډون دی.
ډیری نښی نښانی شته چی په راتلونکو ټاکنو کی به اسلامی گوند پراخ گډون کوی او د امکان په صورت کی به د جمیعت سره هم اوږه ورکوی، دا ځکه چی جمیعت گوند د حکمتیار د راتگ په لړی کی مرسته کړی ده. د گلبدین حکمتیار لپاره سیاسی ماینونه همدا د راتلونکو ټاکنو او دده د گوند بیا راټولول او سمبالول دی. که حکمتیار د خپل گوند په راټولولو کی بریالی شی او ټول هغه نوی مشران چی وړاندی د دولت په چوکاټ کی د ستر برم او صلاحیت خاوندان وو تر خپلی ولکی لاندی راولی، د اسلامی گوند مشر ته دوی لاری موجودی دی:
لمړی: حکمتیار به په خپله د جمهوری ریاست ټاکنو ته ځان کاندیدوی او د نورو مجاهدینو د ملاتړ لپاره به هلی ځلی کوی.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دوهم: حکمتیار به د خپل ګوند نه یو کس د ټاکنو لپاره انتخابوی او د هغه ملاتړ به کوی. د لمړی بدیل په باب باید ووایم چی زما په نظر دا یو واقعی سیاسی لومه ده او د دی چانس ډیر دی چي حکمتیار دی دا ټاکنی و نه ګټی. د نه ګټلو په صورت کی به د ده سیاسی اعتبار د خپلو ملاتړ کوونکو په مینځ کی را ټیټ شی او ډیر ځوان حزبیان چی د نویو چانسونو د لاسته راوړلو لپاره د حکمتیار تر شا دریږی تری ولاړ به شی او حکمتیار به لکه نورو جهادی مشرانو په څیر یوه څیره وی او خپل ژوند به سبا کوی. دغه سناریو د ډیرو شنونکو له خوا طرح شوی ده او د حکمتیار لپاره د ښو پایلو پس منظر نه وینی. د دوهمی سناریو په نظر کی نیولو سره چی که حکمتیار یو کس د خپل ځان په ځای د جمهوری ریاست لپاره کاندید کړی، نو په دی صورت کی خو د تیرو ټاکنو سناریو تکراریږی. په تیرو ټاکنو کی ګلبدین حکمتیار د خپل ګوند یو تکړه استازی د قطب الدین حلال په نامه کاندید کړ او په رسمی توګه یی د ده څخه ملاتړ اعلان کړ. په نتیجه کی ښاغلی حلال د ۲٪ رایو په ګټلو سره یوازی وتوانید د جمهور رئیس غنی په چوپړ کی د مناسب معاش په درلودلو سره پاتی شی. دا وار چی ښاغلی حکمتیار په رسمی توګه په کابل کی دی او کولای شی د رسمی او غیر رسمی رسنیو څخه ګټه پورته کړی، کیدای شی د ده وړ کاندید د ۲٪ نه ډیری رایی واخلی خو و به نه توانیږی چی ټاکنی و ګټی. له بلی خوا حکمتیار چی د تیرو څلویښتو کلونو په موده د هیواد او پلازمینی نه لری وو او د هیواد د سیاسی معاملو د بازار نه ډیر خبر نه دی. په تیره بیا چی د امریکائیانو د راتګ نه وروسته په کابل کی د سیاسی راکړی ورکړی او خرڅلاو بازارد ومر توود دی چی ډیرو سیاسی لوبغاړو د حکمتیار په نژدی حلقه کی ځانونه لا وختی شامل کړی دی او د یوه نوی چانس په انتظار دی. د راتلونکو ټاکنو مرکزی لوبغاړی به د ډاکتر اشرف غنی ، حامد کرزی او د جهادی ګروپونو تر مینځ وی. که څه هم چی جهادی ګروپونه د مالی او دفتری امتیازاتو لپاره د نورو سره معاملی هم کوی خو دا ور به د تنظیمونو مشران او کشران د احتیاط نه کار واخلی. د دولت نه د احمد ضیا مسعود شړل اوجنرال عبدالرشید دوستم ته د سیاسی لانجو مینځ ته راتګ به تنظیمی مشران د معاملو لپاره احتیاط ته اړ باسی. د جهادی تنظیمونو د سیاسی نزول او ټیټ محبوبیت به نور تنظیمی مشران وهڅوی تر څو ګلبدین حکمتیار ته د امید سترګی ونیسی.

که څه هم چی اوس مهال ښاغلی حکمتیار د خپل سیاسی ژوند په لومړی بریا کی غرق دی او یو څو اونی به دده بازار تود وی خو سیاسی ماینونه به ډیر ژر په چاودلو پیل وکړی.

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ